# AFGHANISTAN | افغانستان

## USCIRF–RECOMMENDED FOR SPECIAL WATCH LIST

د مذهبي ازادۍ لپاره د امریکه د متحده ایالاتو کمیسون (یو ایس سي آی آر ایف) د متحده ایالاتو د فدرالي دولت یو خپلواک او دوه ګوندیز کمیسون دی چې له هیواده بهر د مذهب یا د عقیدې د آزادۍ د عالمي حق څارنه کوي. په 1998 کې د نړیوالې مذهبي آزادۍ د قانون (آی آر ایف ای) لخوا جوړ شوی یو ایس سي آی آر ایف په خارج کې له مذهبي یا عقیدوي ازادیو د سرغړونو د څارنې لپاره نړیوال معیارونه کاروي او ولسمشر، خارجه سکرتر، او کانګرس ته د پالیسیو د جوړونې لپاره سپارښتنې ورکوي. یو ایس سي آی آر ایف یو خپلواک واحد دی او د متحده ایالاتو له خارجه وزارت بېل دی. د 2020 کلنی راپور د کمشنرانو او د مسلکي کارکوونکو د یو کال د کار پایله ده چې په ترڅ کې یې دوی په نړۍ کې زورزیاتي په لاسوندي توګه رایوځای کړي او اوس د متحده ایالاتو دولت ته د تګلارو په لړ کې خپلواکې سپارښتنې ورکوي. د 2020 کلني راپور کې د جنورۍ 2019 نه تر د دسمبر 2019 پورې موده پوښ لاندې راوستل شوې، که څه هم په ځینو بېلګو کې له دغه مودې مخکې یا وروسته مهمې پېښې هم یادې شوې دي. د یو ایس سي آی آر ایف په اړه نور معلومات دلته وموږ، یا په 202-523-3240 مستقیم تماس ونیسئ.

## مرکزي موندنی:

په کال 2019 کې، په افغانستان کې د مذهبي خپلواکۍ وضعیتونه، د هیواد دروان سیاسي بې ثباتۍ او کورنۍ جګړې په ترڅ کې هم هغسې منفي میلان لرلو. د مذهب او عقیدې د خپلواکۍ د خوندیتوب لپاره په دې هیواد کې ناامنیتي د پام وړ ننګونه وه. سره له دې چې د متحده ایالاتو د حکومت او طالبانو ترمنځ د سولې خبرې اترې وشوې، خو د افراطي ډلو له خوا روان بریدونه، په ځانګړي توګه د طالبانو او په خراسان ولایت کې د اسلامي دولت (IKSP)، نه یواځې دا چې د افغانستان عمومي ثبات ته ګواښ رامنځته کړ، بلکې په ځانګړي توګه شیعه مسلمانان یې هم په خطر کې واچول. د شیعه ټولنې پر ضد د ترهګرو بریدونو، د دې ټولنې د مشرانو ، سیمو، جشنونو او عبادت ځایونو په نښه کولو کې په دې وروستي کلونو کې زیاتوالی راغلی دی، چې په 2019 کال کې هم دغه وضعیت و. د اقلیتي ټولنو پرضد ترهګریز بریدونو او د افغان وګړو، حکومت او عسکرو په نښه کولو سره د ترهګرۍ دې رواني ستونزې اندیښنې لا نورې هم زیاتې کړې. د 2019 کال په اکتوبر کې، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه مشن، یوناما (UNAMA) په خپل راپور کې په 2019 کال کې د ملکي وګړو د تلفاتو د مقایستې کچې د تیر کال په نسبت (8,239) ورکړې، چې زیاتره بریدونه د نورو خواو له خوا ترسره شوې و. په ټول کال کې، د متحده ایالاتو او طالبانو ترمنځ د سولې د خبرو اترو د مخالفت کولو او د سپتمبر 2019 د دولسمشرۍ د انتخاباتو د تاوتریخوالي له کبله په افغانستان کې په تروریستي بریدونو کې زیاتوالی راغی چې دا په افغان ټولنه کې د تاوتریخوالي مهم لامل و.

په دې ورستي کلونو کې، افغانستان هلې ځلې وکړې چې د مذهبي اقلیتي ټولنو د نابرابرۍ او توپیر ستونزې هوارې کړې. د طالبانو د حکومت د نسکوریدو راهیسې، د شیعه مسلمانانو په ټولنیز او سیاسي وضعیت کې ښه والی راغلی او د دغه ټولنې غړي په حکومت، رسنیو او شخصي صنعت کې مهم پوسیونه لري. هندوانو او سکهانو د کال 2016 راهیسې په پارلمان کې په ټاکل شوي سیټونو استازیتوب ورکړل شوی او ځینې په حکومتي دندو استخدام شوي. د 2019 په نومبر کې، افغان حکومت د هغه افغان سکهانو او هندوانو لپاره هم پرته له ویزې د سفر کولو اجازه پیل کړه چې اوسمهال په هندوستان کې اوسیږي. سره له دې هلو ځلو، د مذهبي اقلیتونو ورې ټولنې، د هندانو، سکهانو، عیسایانو، احمدي مسلمانانو او باها پشمول، د طالبانو په حکومت کې د سخت بشري حقونو د سرغړونو سره مخامخ شوې، داسې چې هغوی ته سخت خطر موجود و او نه شو کولای یې چې د ترهګریز ګروپونو یا عمومي ټولنې د غچ اخیستلو د ویرې په څرګند ډول خپل عبادت وکړي. په دې ورستي کلونو کې افغان حکومت د مذهبي اقلیتونو د امنیت د ښه کولو لپاره ځینې اقدامات ترسره کړې دي، لکه د شیعه ټولنې په سیمو کې د امنیتي ځواکونو زیاتول او په مذهبي رسوماتو، لکه عاشوراء کې د پولیسو د اختیار سره سم شیعه وګړو ته وسلې ورکول. د دې هلو ځلو له کبله د څه حده پورې په شیعه مذهبي رسوماتو باندې په ترهګریز بریدونو کې کمی راغلی. البته، د هیواد په ټولو برخو د حکومت د نه کنټرول له کبله، د اداري فساد د روانو ستونزو، او د امنیتي ځواکونو په هغه برخو کې د توان نه لرلو، چې د حکومت تر کنټرول له لاندې نه دي، له کبله د دې هلو ځلو عمومي تاثیر له څنډ سره مخامخ شوی. د افغانستان د بیاودانۍ د ځانګړي انسپکټر جنرل د 2019 کال د جنورۍ د ځانګړي راپور له مخې، حکومت یوازې د افغانستان د ټول نفوس په 63.5 فیصده سیمه مستقیم کنټرول لري

## د متحده ایالاتو دولت ته سپارښتنې

- چې افغانستان د نړیوال مذهبي خپلواکۍ د قانون (IRFA) سره سم د مذهبي خپلواکۍ د سختو سرغړونو د مرتکب کیدو یا د زغملو له کبله د بهرنیو چارو وزارت د ځانګړې څارنې په لیست کې شامل کړي، او په دوام سره طالبان او ISKP د مذهبي خپلواکۍ د منظم، دوام لرونکي او سختو سرغړونو له کبله ((د ځانګړي اندیښنې وړ وګرځوي))، لکه څنګه چې په IRFA کې ورکړل شوې دي،
- د طالبانو او افغان حکومت ترمنځه د راتلونکي په خبرو اترو کې هغوی د مذهب یا عقیدې د خپلواکۍ خوندیتوبونه یقیني وګرځوي او د افغان سیاسي مشرانو ته د مذهبي خپلواکۍ او عمومي امنیت د نږدې تړاو لرلو په اړه تاکید وکړي،
- د مذهبي خپلواکۍ اندیښنې بشپړې کړي، چې په دې کې د عبادت د ځایونو نیولې تر د تروریزم سره د مبارزې لپاره مرسته او د روزنې پروګرامونه شامل دي، چې د دې تمرکز په فرقوي تاوتریخوالی حل کولو، او د بهرنیو چارو وزارت ، د نړیوال پرمختګ لپاره د متحده ایالاتو اژانس (USAID)، میلینیم چیلنج کارپوریشن، او د متحده ایالاتو د دفاع وزارت له خوا تمویل شوي قانون او نظم تقویه کولو وي،

- د افغانستان د زده کړې او پوهنې، معلوماتو او کلتور او حج او مذهبي چارو وزارتونه دې يقيني کولو ته وهڅوي چې په نصابي او درسي کتابونو او زده کړه کې داسې نه زغمل کيدونکي پروپاګند ورانديې نه کړي چې مذهبي اقليتونه بدنام کړي او دغه وزارتونه بايد د ټول افغانستان د مذهبي مشرانو او سکالرانو ترمنځ ټولنيز مذهبي زغم او برداشت ته د پرمختګ ورکولو لپاره د همکارۍ په برخه کې کار وکړي.

د متحده ايالاتو کانګرېس يا ولسي جرګه بايد:

- په افغانستان کې د مذهبي او عقيدوي خپلواکۍ د خونديتوب لپاره بودجه وټاکي او په دوام سره د دغه لګښتونو د فعاليتونو او اړوند پروګرامونو د افغانستان د بیاودانۍ لپاره د ځانګړي انسپکټر جنرل سره په همکارۍ څارنه کوي.

### د USCIRF مهمې سرچينې او فعاليتونه

- **اوربدنه:** Protecting Houses of Worship and Holy Sites
- **د هيواد اپ ډېټ:** Promoting Religious Freedom in Afghanistan

## شاليد

افغانستان د بېلا بېلو نسلي ډلو د يوې لړۍ کور دی چې پکې پښتانه (42 سلنه)، تاجک (27 سلنه)، هزاره (9 سلنه)، ازبک ( 9 سلنه)، ترکمن ( 3 سلنه)، او بلوڅ (2 سلنه) دي. افغانستان په تاريخي توګه د متنوع مذهبونو کور پاتې شوی دی، خو، کله چې په کال 1992 کې طالبانو حکومت په لاس کې واخست، د غېر مسلمو يو پراخ اکثريت له هېواده وتښتېد. د هندوانو او سکهانو نفوس، د مثال په توګه، د 1990 لسيزې په لومړيو کې له 220,000 څخه تر ننه پورې شاوخوا 1,000 ته راټيټ شو. د افغانستان اوسنی نفوس شاوخوا 99.7 فيصده مسلمانان (84.7-89.7 فيصده سنيان او 10-15 فيصده شيعه ګان، د اسماعيليانو پشمول دي)، په داسې حال کې چې غيرمسلمه (هندوان، سکهان، باهاء، عيسايان، بودايان، زوروبستريان او نور) پاتې 0.3 فيصده دي. د افغانستان د 2004 په اساسي قانون کې اسلام د دولت رسمي مذهب تسليم شوی دی او د ټولو پارلماني قوانينو څخه دا غوښتنه کوي چې د اسلامي اصولو درناوی کوي او تعليمي نصاب بايد د اسلام د مذهب پر اساس وي. سربېره پردې، د اساسي قانون له مخې به محکمې په حنفي شريعه د قوانينو په سستم هغه وخت تکيه کوي، کله چې په اداره کيدونکي اساسي قانون کې څه نيمګړتيا وي، په داسې موضوعاتو کې چې د غير مسلم له خواو د کستاخي يعني کفر سرغړونه کيږي (د مرګ د سزا پورې مشروط)، د خپل دين څخه اوړي او بل دين ته اړوي. د رسنيو ناخرګنده قانون هم ((د اسلام خلاف مواد)) منع کوي او د دې لپاره يې خپل واک د حکومتي مقاماتو او ژورنالیستانو کمسيون ته سپارلی دی. اساسي قانون دا ضرور وايي چې غيرمسلم په ازادۍ سره کولای شي چې خپل ((مذهبي رسومات)) ترسره کوي، خو ولې ((د قانون په حدودو)) کې، چې په دې سره د هغوی مذهبي رسومات په قانوي توګه محدود کيږي چې دا د نړيوال بشري حقونو د معيارونو څخه سرغړونه ده.

## د غيردولتي ګروپونو تاوتريخوالی

په 2001 کې د متحده ايالاتو د عسکري حملې څخه وروسته په دې هيواد کې ترهګريز ګروپونه اوس هم فعاليت کوي، چې د متحده ايالاتو، افغان حکومت او ولسي وګړو خلاف بريدونه کوي او مذهبي اقليتونه هم په نښه کوي. په کال 2009 کې، د روان دولتي ضد افراطيت په ترڅ کې، طالبان او ISKP، چې په کال 2015 کې راپورته شو، د مذهبي اقليتي ټولنو خلاف خپل بريدونو ته دوام ورکړو، په ځانګړي توګه، شيعه هزاره ټولنې ته چې په اګست کې کافران وبلل شو او د طالبانو په واکمنۍ کې په ظالمانه توګه تعقيب او ځورول شو. په اوسني بريدونو کې د 17 مې نيټې، 2019 ځانمرګی بريد شامل دی، چې په کابل کې په شيعه هزاره ټولنه د واده په دعوت کې ترسره کړل شو او په دې کې 63 کسان ووژل او 182 نور ټپيان شول، په 6 جولای 2019 په غزني کې د شيعه ګانو په جومات بريد وکړل شو، چې په کې دوه کسان ووژل او 20 نور ټپيان شول، په 31 مارچ 2019، په کابل کې د نو روز د جشنونو په مراسمو کې د شيعه ګانو په يو مزار باندې بريد وکړل شو چې شپږ کسان په کې ووژل او 20 نور ټپيان شول او همدغه شان په 7 مارچ 2019 د عبدالعلي مزاري، چې د هزاره ټولنې مشر و او طالبانو په کال 1995 کې وژلی و ، د يادونې په رسوماتو د کابل د شيعه هزارګانو په سيمه کې بريد وکړل شو، چې 11 کسان په کې ووژل او 95 نور ټپيان شول. افغان حکومت نه شي کولای چې خپلو خلکو ته امنيت ورکړي څکه چې دا د خپلې واکمنۍ په سيمه ډېر محدود کنټرول لري. حکومت همدغه شان په هغه سيمه هم محدود استعداد لري چې د دې په کنټرول کې ده. د دې په لاملونو کې د مذهبي زده کړې په موسسو يا مدرسو باندې د حکومت نظر نه ساتل شامل دي، چې د بهرنيو چارو وزارت د 2018 کال د هيواد د ترهګرۍ د راپورونو له مخې په ټول هيواد کې شاوخوا له 100,000 څخه تر 160,000 پورې مدرسې موجودې دي. د حج او مذهبي چارو وزارت راپور څرګندوي چې په دې مدرسو نظر نه ساتل د دې لامل کيږي چې دا د طالبانو د افراطي نظريې سره سم د ښوونې خپرولو لپاره کارول کيږي او دا عمل د کمذوري او حساس نفوس د افراطي ګروپونو د استخدامولو لپاره کار کوي.

## د مذهبي اقليتونو لپاره نورې انديښنې

سره له دې چې د غه کمیدونکي غيرمسلم ټولنې د خپل هيواد سره وفاداري لري، خو دوی د ټولنيز، سياسي او اقتصادي تبعيض او توپير، د افراطي ګروپونو د روان بريدونو او د حکومت دوی ته د مناسب امنيت نه ورکولو له کبله افغانستان پريښودلو ته مجبور دي. د استوګنځيونو د کمي له کبله د سکهانو يو شمير کورنۍ په ګوارودوارو کې په اوسيدلو مجبور دي او د خپل مذهب د مړي د رسوماتو، چې سوځول کيږي، په پوره کولو کې د محدوديتونو سره مخ دي، چې د سوځولو دغه عمل د مسلمانو سيمه ييز ټولنې نه خوښوي. سره له دې چې حکومت مذهبي اقليتونه د خپل عبادت ځايونو جوړولو څخه نه منع کوي، هندوان او عيسايان د افراطي ګروپونو د احتمالي غچ اخيستنې د مخنيوي لپاره داسې ډول ساده او نه پيژندونکي ودانۍ جوړې کړې چې د عبادت ځانګړي ځايونه نه څرګنديږي. په کال 2007 کې، د فتوې او عمومي مديريت

او سترې محکمې باها مذهب ګستاخي کوونکی یعني کفري مذهب وبللو. له دغه پریکړې وروسته د باها تولنه په پټه ژوند کوي.

## د متحده ایالاتو ستره پالیسي

د متحده ایالاتو حکومت د کال 2001 راهیسې د افغانستان سره د ګڼ شمیر عسکري، ترهګری ضد، اقتصادي او بشري مرستې په پروګرامونو کې زیاته همکاري کوي. په داسې حال کې چې افغانستان په جنوبي اسیا کې د متحده ایالاتو د پالیسی مرکزي تمرکز دی، د ټرمپ حکومت خپل دا خواهش څرګند کړی چې له دې هیواد څخه د متحده ایالاتو پاتې 14,000 عسکر وباسي. د دې هدف د تعقیب لپاره، د متحده ایالاتو لومړیتوب په 2019 کال کې په دوحه قطر کې د طالبانو د مشرتابه سره د سولې مشکل خبرې وې، چې په نتیجه کې یې د 2020 کال د فبروری په اخره کې د سولې هوکړه لاسلیک کړی شوه. البته، افغان حکومت د 2019 کال په ګڼ شمیر مذاکراتي ناستو که نه و رابلل شوي ځکه چې طالبانو د افغان سیاسي مشرتابه سره تر هغه د خبرو اترو انکار کړی و، ترڅو چې د متحده ایالاتو سره د عسکرو ویستلو هوکړه نه وي شوې. د متحده ایالاتو او طالبانو د استازو ترمنځ د خبرو اترو په ترڅ کې د متحده ایالاتو استازو، چې د افغانستان لپاره د متحده ایالاتو ځانګړي استازي زلمی خلیلزاد یې مشري کوله، خپل تمرکز د متحده ایالاتو د ترهګرۍ ضد په علاقو وکړو. هغوی دا خبره یقیني کول غوښتل چې د طالبانو د القاعدې سره نږدې اړیکې او افغانستان د دې لپاره ونه کارول شي چې یو ځل بیا د نړیوالې ترهګرۍ د ګروپونو لپاره د فعالیتونو مرکز شي. په دې مذاکراتو کې د مذهبي خپلواکۍ د تضمین په اړه ډیرې کمې خبرې اترې شوې. د 2019 کال په دسمبر کې، د بهرنیو چارو وزارت طالبان او ISKP دواړه د مذهبي خپلواکۍ د سختو سرغړونو له کبله ((د ځانګړې اندیښنې وړ)) وګرځولو.

.